fedasil
FEDERAL AGENCY FOR THE RECEPTION OF ASYLUM SEEKERS

euaa
EUROPEAN UNION AGENCY FOR ASYLUM

بلجیم

د داخلېدو پر مهال ستاسو حقوق او مکلفیتونه

دا معلومات ستاسو لپاره دي که:

- تاسو یو بالغ یاست (له 18 کلونو څخه زیات عمر لرئ)
- تاسو په بلجیم کې د نړیوال ملاتړ (چې پناه غوښتنه هم بلل کېږي) لپاره غوښتنه کړې ده او اوس د نړیوال ملاتړ غوښتونکی یاست.

پښتو

منځپانګې

استقبال څه شی دی؟ 3

تاسو به څه ترلاسه کوئ؟ 6

د روغتیايي پاملرنې حق 7

د ماشومانو د زده‌کړې حق 10

د کار کولو حق 11

د ژبې کورسونه او حرفوي روزنه 12

هغه سند چې ددې ښودنه کوي چې تاسو د نړیوال خوندیتوب لپاره یو غوښتونکی یاست 13

تاسو به چېرته پاتې کېږئ؟ 13

هغه حالات چې پکې یو غوښتونکی توقیف کیدی شي 17

ستاسو د استقبال مکلفیتونه څه دي؟ 18

که تاسو خپل مکلفیتونه پوره نکړئ، څه به پېښ شي؟ 19

که چېرې تاسو د چارواکو له اجازې
پرته بل EU+ هېواد ته سفر وکړئ نو څه به کیږي؟ 20

کله چې تاسو هغه EU+ هېواد ته پېرته ولېږل شئ چې تاسو پې له اجازې پرته پرېښی و، څه پېښېږي؟ 20

تاسو د واکمنې ادارې د پرېکړې په وړاندې د استیناف درخواست کولی شئ 21

تاسو ممکن قانوني مرسته ترلاسه کړئ 22

د اړیکو جزئیات 23

استقبال څه شی دی؟

استقبال هغه ملاتړ دی چې تاسو یې د یو غوښتونکي په توګه ترلاسه کوئ، په داسې حال کې چې تاسو د دې په تمه یاست چې چارواکي ستاسو د نړیوال ملاتړ د غوښتنلیک د څېړنې بهیر بشپړ کړي. په دې کې د استقبال حقونه او مکلفیتونه شامل دي کوم چې په دې بروشر کې تشریح شوي.

په **بلجیم** کې، د استقبال مسؤله اداره **فېداسیل** ده.

ستاسو د پناه غوښتنې د ثبت مسؤله اداره **د کډوالۍ دفتر (IBZ) ده.**

د کډوالو او بې‌تابعیتو کسانو لپاره د عمومي کمېشنر دفت
(CGVS/CGRA)
هغه اداره ده چې ستاسو د پناه غوښتنې غوښتنلیک څېړي.

یو کارکوونکی به له تاسو څخه وغواړي چې دا تایید کړئ تاسو په دې بروشر کې درکړل شوي معلومات ترلاسه کړي دي. ایا کوم څه ناڅرګند دي؟ د وضاحت لپاره د فېداسیل له کارکوونکي څخه پوښتنه وکړئ.



تاسو په دې هېواد کې خوندي یاست.

د چارواکو کارکوونکي به تاسو ته د استقبال خدماتو او شته ملاتړ په اړه معلومات درکړي، د ستاسو د وضعیت په پام کې نیولو سره.

تاسو له نورو سازمانونو څخه د معلوماتو او مرستې لپاره په ورېا توګه پوښتنه کولی شئ. تاسو د دې بروشر په پای کې د سازمانونو لیست موندلی شئ.

یو ژباړن به، د اړتیا په صورت کې، تاسو سره مرسته وکړي چې د کارکوونکو سره په هغه ژبه اړیکه ونیسئ چې تاسو پرې پوهیږئ. ژباړن به هغه څه چې تاسو یې وایاست له هېڅا سره شریک نه کړي.
مور به د اړوندو چارواکو ترمنځ معلومات شریکوو څو ستاسو اړتیاوې په پام کې ونیول شي.

تاسو کولی شئ د پناه غوښتنې د کړنلارې او د تعقیبولو قواعد په اړه معلومات په جلا بروشرونو کې ومومئ.

تاسو اوس په بلجیم کې یاست، چې د اروپايي اتحادیې (EU+) یو هېواد دی.
د EU+ هېوادونه دا دي:

د اروپايي اتحادیې (UE) 27 غړي هېوادونه: اتریش، بلجیم، بلغاریا، کروشیا، قبرص، چک جمهوریت، ډنمارک، استونیا، فنلنډ، فرانسه، جرمني، یونان، هنګري، ایټالیا، لاتویا، لیتوانیا، لوګزامبورګ، مالتا، هالنډ، پولنډ، پرتګال، د آیرلنډ جمهوریت، رومانیا، سلواکیا، سلوانیا، هسپانیا، سویډن، او

نور 4 هېوادونه: آیسلنډ، لیختن‌شتاین، ناروې، سویس.

توجه!

د غوښتونکو د استقبال ورته حقوق او مکلفیتونه په ټولو EU+ هېوادونو کې شته.

د پناه غوښتنې او نورو EU+ هېوادونو ته د سفر په اړه قوانین شتون لري.

تاسو باید د پناه غوښتنه وکړئ او خپل غوښتنلیک په هغه EU+ هېواد کې ثبت کړئ چې تاسو لومړی هلته رسېدلي یاست، پرته له دې چې چارواکو تاسو ته بل ډول معلومات درکړي وي.

یوازې یو EU+ هېواد ستاسو د پناه غوښتنې د څېړنې مسؤلیت لري. په بلجیم کې چارواکي به یوه پروسه تعقیب کړي ترڅو دا وټاکي چې کوم EU+ هېواد ستاسو د پناه غوښتنې مسؤلیت لري.

تاسو باید په بلجیم کې پاتې شئ. تاسو نشئ کولی د چارواکو له اجازې پرته بل EU+ هېواد ته سفر وکړئ. که تاسو ووځئ، منفي پایلې به ولري. ستاسو د پناه غوښتنې پروسه په بلجیم کې کېدای شي ودرول شي. ستاسو د تګ راتګ ازادي په هغه بل هېواد کې کېدای شي محدوده شي، او ځینې د استقبال خدمات به لغوه شي.

تاسو به څه ترلاسه کړئ؟

په داسې حال کې چې چارواکي ستاسو د نړیوال ملاتړ غوښتنلیک څېړي، او ستاسو د شخصي او مالي وضعیت په پام کې نیولو سره، تاسو به ترلاسه کوئ:



- د شخصي حفظ الصحې توکي

- استوګنځی

- جامې

- د خوړو یا خواړو کوپنونه

- د ورځنیو لګښتونو لپاره پیسې

د فېډاسیل کارکوونکي به له تاسو څخه پوښتنې وکړي ترڅو ستاسو شخصي او مالي وضعیت ښه درک کړي.

توجه! ستاسو د پناه غوښتنې د پروسې د وضعیت په پام کې نیولو سره، ستاسو د استقبال حق کېدای شي محدود شي.

د روغتيا پاملرنې حق

چارواکي به ډاډ ترلاسه کړي چې تاسو **اړين روغتيايي پاملرنه ترلاسه کوئ.** دا کېدای شي، د بېلګې په توګه، د نرس يا ډاکټر له ليدنې، د سختو ناروغيو او مزمنو حالتونو معاينه، د ډاکټر له خوا تجويز شوې درمل، او د روانې روغتيا ملاتړ شامل وي.

آيا تاسو کومه طبي ناروغي لرئ؟ که داسې وي، مهرباني وکړئ يو کارکوونکی خبر کړئ.

که تاسو طبي بېړنی حالت يا داسې ټپ لرئ چې عاجل درملنې ته اړتيا لري، نو کارکوونکي ته خبر ورکړئ يا د بېړني خدماتو 112 شمېرې ته وړيا زنګ ووهئ.

تاسو به د ډاکټر يا نرس سره طبي معاينه ولرئ. هغوی به ستاسو روغتيا وڅېړي او تاسو سره به مرسته وکړي. هغوی کېدای شي له تاسو څخه د اوسنيو يا پخوانيو ناروغيو، ستاسو د واکسين سوابقو، او هر هغه درملو په اړه پوښتنې وکړي چې تاسو يې کاروئ. هغوی کېدای شي له تاسو څخه د هر ډول ټپونو، درد، ناروغيو، يا اندېښنو په اړه هم پوښتنې وکړي چې تاسو يې لرئ.

مورږ به ستاسو د سږو ايکس‌ري واخلو ترڅو وڅېړو چې آيا تاسو د نري رنځ (ټي بي) ناروغي لرئ که نه. نري رنځ (ټي بي) د سږو يوه ساري ناروغي ده. که د ايکس‌ري له مخې داسې ښکاره شي چې کېدای شي تاسو د نري رنځ (ټي بي) ناروغي ولرئ، مورږ به په روغتون کې ستاسو لپاره د نورو معايناتو او درملنې لپاره وخت تنظيم کړو. ستاسو د اصلي هېواد او پخوانيو واکسينونو په پام کې نيولو سره، کېدای شي تاسو ته د واکسين له لارې اضافي محافظت هم وړاندې شي. دا تاسو او نور د ساري ناروغيو څخه ساتي.

ډاکټر يا نرس به ستاسو اړتياوې ثبت کړي. مهرباني وکړئ هغوی ته د خپلې طبي ناروغۍ په اړه معلومات ورکړئ.

تاسو د تخصصي ملاتړ ترلاسه کولو حق لرئ که چېرې تاسو ځانګړې اړتیاوې لرئ.

که داسې وي، نو کارکوونکي ته خبر ورکړئ:

- تاسو ناروغ یا ټپي یاست
- تاسو امیندواره یاست یا کېدای شي امیندواره شئ
- ستاسو د کورنۍ غړي ځانګړي ملاتړ ته اړتیا لري
- تاسو معلولیتونه لرئ (د ببلګې په توګه، د حرکت محدودیت، د اوربدو کمزوري، د لید کمزوري)
- تاسو په دوامداره ډول عصبي، اندېښمن یا مضطرب احساس کوئ، نه شئ ویده کېدای، یا منفي افکار لرئ
- تاسو د تېر تاوتریخوالي یا شکنجې له اغېزو ځوریږئ
- تاسو ناامنه، ګواښل شوي یا وېرېدلي احساس کوئ، که د یوه ناپېژانده کس له خوا وي یا د هغه چا له خوا چې تاسو پې پېژنئ
- تاسو مجبور شوي یاست یا مجبوریږئ چې داسې کارونه ترسره کړئ چې تاسو پې نه غواړئ
- تاسو د خپلې عقیدې، د چا سره چې مینه لرئ، یا د خپل لباس او چلند له امله ناامنه احساس کوئ
- تاسو له 18 کلونو څخه کم عمر لرئ، او د خپل مور او پلار پرته، یوازې یا له نورو د کورنۍ غړو سره راغلي یاست

ځانګړی ملاتړ یوازې هغه وخت برابرېدای شي چې کارکوونکي ستاسو د ځانګړو اړتیاوو څخه خبر وي.



ځانګړي مسلکي کارکوونکي (لکه د روغتیايي پاملرنې کارکوونکي، اروا‌پوهان، یا ټولنیز کارکوونکي) به له تاسو څخه پوښتنې وکړي تر څو:

- ستاسو ځانګړې **اړتیاوې وارزوي،**
- ستاسو لپاره **تر ټولو مناسب ځانګړی** ملاتړ وپېژني.

دې ته د زیان‌منې **ارزونه او د ځانګړو اړتیاوو ارزونه ویل کېږي.**

یو ژباړونکی به تاسو سره په هغه ژبه کې خبرو اترو کې مرسته وکړي چې تاسو پرې پوهېږئ، که اړینه وي.

تل د مرکز له کارکوونکو یا د روغتیايي پاملرنې له کارکوونکو سره اړیکه ونیسئ که تاسو ځانګړي ملاتړ ته اړتیا لرئ.

تاسو به دا ملاتړ تر هغه وخته پورې ترلاسه کوئ تر څو چې چارواکي په پام کې نیسي چې تاسو په اړتیا کې یاست.
تاسو کولی شئ په ډاکټر، نرس، اروا‌پوه او ټولنیز کارکوونکي باور وکړئ او له هغوی سره په ازاد ډول خبرې وکړئ. ټول معلومات به محرم وساتل شي، دا په دې مانا دی چې ستاسو له موافقې پرته به دا له نورو سره شریک نشي.

یوازینۍ استثنا دا ده چې که ستاسو یا د یو بل چا ژوند په خطر کې وي.

د ماشومانو لپاره د زده کړې حق

ټول ماشومان، هلکان او نجونې، چې عمر یې له 18 کلونو کم وي، د زده‌کړې حق لري.

که اړتیا وي، هغوی به د ژبې د کورسونو په خبر ملاتړ ترلاسه کړي.

په بلجیم کې ټول ماشومان چې عمر یې له 5 څخه تر 18 کلونو پورې وي، باید ښوونځي ته ولاړ شي.

مور او پلار مکلف دي چې خپل ماشومان ښوونځي ته واستوي.

د کار کولو حق

ستاسو د وضعیت په پام کې نیولو سره، تاسو کېدای شي د دې حق ولرئ چې په بلجیم کې د نړیوال ملاتړ د غوښتنلیک له ثبت څخه 4 میاشتې وروسته کار پیل کړئ.

د استقبال مرکز کارکوونکي به تاسو ته په بلجیم کې د پلي کېدونکو قوانینو په اړه معلومات درکړي.

ځینې استثناوې شته، د بېلګې په توګه، که تاسو له چارواکو سره همکاري نه کوئ، تاسو ته به د کار اجازه درنه کړل شي.

که تاسو کار کوئ او په استقبال مرکز کې اوسېږئ، کېدای شي تاسو د خپل استوګنځي لګښتونه په جزوي ډول تادیه کړئ.

ټول هلکان او نجونې چې عمر یې له 15 کلونو کم وي، د کار اجازه نه لري.

د ژبې کورسونه او حرفوي روزنه

تاسو کولی شئ ګډون وکړئ:

- د ژبې کورسونه،
- د هغه ټولنې په اړه کورسونه چې تاسو پکې اوسېږئ (قوانین، مقررات او کلتور)،
- د نوو مهارتونو د زده‌کړې کورسونه (حرفوي روزنه)،

کارکوونکي به تاسو ته د دې کورسونو په اړه او کله چې تاسو يې پيل کولی شئ خبر درکړي. کورسونو ته لاسرسی کېدای شي د ځينو شرايطو تابع وي، لکه د ژبې مهارت يا د وړاندې کېدونکو کورسونو موجوديت.

هغه سند چې وايي چې تاسو د نړيوال خوندیتوب لپاره یو غوښتونکی یاست

تاسو به یو رسمي سند ترلاسه کړئ چې پکې لیکل شوي وي چې تاسو د نړیوال ملاتړ غوښتونکی یاست. دا سند به ستاسو نوم او ستاسو شخصي معلومات بیان کړي. تاسو باید دا هر وخت له ځانه سره ولرئ.

دا د سفر سند نه دی.

توجه! احتیاط وکړئ چې دا له لاسه ورنه کړئ او بل چا ته یې مه سپارئ.

تاسو به چېرته پاتې کیږئ؟

هغه ځای چې تاسو به پکې اوسېږئ په داسې حال کې چې ستاسو د نړیوال ملاتړ غوښتنلیک څېړل کېږي، په ډېرو عواملو پورې اړه لري.

که تاسو د استوګنې حق لرئ او غواړئ چې دا ترلاسه کړئ، نو د خپل غوښتنلیک د څېړلو په جریان کې به په استقبال مرکز کې اوسېږئ. دا اکثره یو داسې مرکز وي چې د فېداسیل یا د هغه د همکارانو له خوا اداره کېږي. فېداسیل به د شته بسترو پر بنسټ د استوګنې ځای در وټاکي.

تاسو هر ځای چې اوسېږئ، لاندې حقونه لرئ:

- **خوندي اوسئ:** هېڅوک، حتی کارکوونکي هم، اجازه نه لري چې تاسو ته ګواښ وکړي، سپکاوی وکړي یا زیان ورسوي

- **د خپل مېرە، مېرمن، ماشومانو او د 18 کلونو څخه کم عمره خویندو وروڼو سره پاتې شئ، یا د هغه بالغ خپلوان سره چې ورځني پاملرنې ته اړتیا لري**
- **که تاسو یو بالغ یاست** او ورځني پاملرنې ته اړتیا لرئ، له خپلو خپلوانو سره پاتې شئ

- د خپلې کورنۍ سره **د اړیکې لپاره** مرسته ترلاسه کړئ او که تاسو نه **پوهېږئ هغوی چېرته دي، د هغوی د موندلو هڅه وکړئ**.

تاسو کولی شئ رسمي شکایت وکړئ که تاسو باور لرئ چې:

- د کارکوونکو له خوا له تاسو سره ګواښ، سپکاوی شوی یا زیان دررسېدلی وي.
- کله چې تاسو په مرکز کې له شرایطو څخه ناخوښ یاست.

د استقبال مرکز کارکوونکي به تاسو ته معلومات درکړي چې څنګه رسمي شکایت وکړئ.

تاسو کولی شئ تل د نورو معلوماتو لپاره له چارواکو، غیر دولتي سازمانونو، یا د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري (UNHCR) څخه پوښتنه وکړئ.

تاسو کولی شئ په شخصي استوګنځي کې پاتې شئ که کافي مالي سرچینې ولرئ او که چارواکي پرېکړه ونه کړي چې تاسو باید په ځانګړي استوګنځي کې اوسئ. په دې صورت کې، تاسو ته کېدی شي اجازه هم درکړل شي چې له خپلې کورنۍ یا ملګرو سره پاتې شئ.

کله چې تاسو د پناه غوښتونکي په توګه په استقبال مرکز کې نه اوسېږئ، کوم ملاتړ به ترلاسه کوئ؟

- تاسو به اړ یاست چې خپل خواړه پخپله وپېرئ
- تاسو به اړ یاست چې خپل مالي چارې پخپله سمبال کړئ
- تاسو د استقبال مرکز څخه بهر د طبي مرستې حق لرئ

ایا تاسو یوې شخصي پټې ته انتقالېږئ؟

تاسو به اړ یاست چې دولتي ادارو ته خبر ورکړئ. خپله نوې پته د دولتي ادارو (IBZ او CGVS/CGRA) ته واستوئ.

ستاسو د وضعیت په پام کې نیولو سره، چارواکي کېدای شي پرېکړه وکړي چې تاسو باید په یوه ځانګړي ځای کې (د بېلګې په توګه په ځانګړي استقبال مرکز کې) پاتې شئ.

تاسو ته به اجازه وي چې له هغه ځانګړي ځای څخه ووځئ، خو ځینې محدودیتونه به پلي وي. ستاسو حضور په هغه ځانګړي ځای کې کېدای شي په منظم ډول وڅارل شي.

چارواکي کېدای شي د څو دلایلو له امله داسې پرېکړه وکړي. د بېلګې په ډول:

- دا خطر شته چې تاسو ممکن وتښتئ
- کېدای شي یو بل هېواد ستاسو د پناه غوښتنې د څېړلو مسؤل وي، او چارواکي فکر کوي چې تاسو ښایي وتښتئ.
- تاسو له دې هېواد څخه بې اجازې وتلي یاست، بیرته ستانه شوي یاست، او دا خطر شته چې بیا وتښتئ.

چارواکي به دا پرېکړه تاسو ته په لیکلي بڼه او په هغه ژبه چې تاسو پرې پوهېږئ، در ورسوي. دوی به تاسو ته ستاسو د حقونو، مکلفیتونو او منفي پایلو په اړه خبر درکړي که چېرې تاسو پرېکړې ته درناوی ونکړئ.

تاسو د دې پرېکړې په وړاندې د استیناف غوښتنه کولی شئ.

تاسو کولی شئ له چارواکو څخه وپوښتئ چې ایا تاسو کولی شئ د محدودې مودې لپاره په بل ځای کې پاتې شئ. چارواکي ممکن ستاسو غوښتنه منظور کړي یا نه. که چېرې ستاسو غوښتنه رد شي، تاسو د دې پرېکړې په وړاندې د استیناف غوښتنهکولی شئ.

توجه! که چېرې تاسو په دې ځانګړي ځای کې د پاتې کېدو پرېکړې او لګول شوي محدوديتونو ته درناوی ونکړئ، او دا خطر شتون لري چې کېدی شي تاسو بيا وتښتئ، کېدی شي تاسو ايسار شئ.

هغه حالات چې پکې يو غوښتونکی ايساريدی شي

ايساربدل په دې مانا دی چې تاسو په يوه ځانګړي اسانتيا کې اچول کيږئ چې تاسو نشئ کولی په آزاده توګه پرېږدئ. چارواکي بايد ستاسو د ايسارولو لپاره يو معتبر لامل/وجه ولري. دوی بايد په دې خبره ډاډمن وي چې ستاسو په قضيه کې بل هېڅ يو انتخاب ممکن نه دی. د کډوالۍ دفتر به د پرېکړې کولو مخکې ستاسو شخصي وضعيت په پام کې ونيسي.

د بندي کولو دلايل کېدای شي، د بېلګې په توګه، دا وي:

- ستاسو د پناه غوښتنې مهم اړخونه (د بېلګې په توګه، ستاسو هويت) پرته له بندي کولو نه شي تاييد کېدای
- تاسو د ځانګړي ځای کې د پاتې کېدو مکلفيت نه دی مراعت کړی، او دا خطر شته چې بيا وتښتئ، او چارواکي نه شي کولی تاسو ته ورسېږي
- تاسو د دې پرېکړې خبر ترلاسه کړی چې د اروپايي ټولنې هغه هېواد ته ولېږدول شئ چې ستاسو د پناه غوښتنې د څېړلو مسؤل دی، او دا خطر شته چې تاسو د لېږد مخکې وتښتئ
- تاسو د امنيتي خطر په توګه ګڼل کېږئ.

که چېرې تاسو ايسار کړل شئ، تاسو د پرېکړې په وړاندې د استيناف غوښتنه کولی شئ. تاسو د وړيا قانوني مرستې او استازيتوب غوښتنه کولی شئ.

ستا د استقبال مکلفیتونه څه دي؟



لاندې ځینې هغه مکلفیتونه دي چې تاسو باید ورته غاړه کیږدئ.

- د دې هېواد قوانین تعقیب کړئ.
- په بلجیم کې پاتې شئ او د چارواکو له اجازې پرته بل اروپایي اتحادیه هېواد ته سفر مه کوئ.
- د هغه ځانګړي ځای څخه چې چارواکو ویلي دي تاسو باید هلته پاتې شئ، له اجازې پرته مه وځئ.
- له چارواکو سره بشپړه همکاري وکړئ او د هغوی لارښوونې تعقیب کړئ.
- د هغه ځای قوانین مراعت کړئ چې تاسو پکې اوسېږئ.
- د نورو اوسېدونکو، کارکوونکو او نورو خلکو درناوی وکړئ.
- چارواکو ته د خپلو مالي سرچینو په اړه معلومات ورکړئ.
- چارواکو ته د خپلې اوسنۍ پتې او د اړیکو د معلوماتو (د ټیلیفون شمېره، بریښنالیک) او هر ډول بدلونونو په اړه معلومات ورکړئ، څو هغوی هر وخت له تاسو سره اړیکه نیولی شي.

که چېرې ته د خپل مکلفیتونه ادا ونکړې نو څه به کیږي؟

چارواکي به ستاسو وضعیت وارزوي او کېدای شي پرېکړه وکړي چې ځینې ډولونه ملاتړ کم یا لغوه کړي. چارواکي به تاسو ته د داسې پرېکړې په اړه په لیکلې بڼه خبر درکړي او مشخص به کړي چې کوم ملاتړ به کم یا لغوه شي.

توجه!

تاسو کېدای شي لږ ملاتړ ترلاسه کړئ، د بېلګې په توګه که:

- تاسو له هغه ځانګړي ځای څخه چې چارواکو ویلي دي تاسو باید هلته پاتې شئ، له اجازې پرته وځئ
- تاسو له چارواکو سره همکاري نه کوئ
- تاسو د خپلو مالي سرچینو په اړه دروغ وایاست
- تاسو عاید لرئ او د خپلې استوګنې لګښت نه ورکوئ
- تاسو د هغه ځای قوانین مات کوئ چې تاسو پکې اوسېږئ
- تاسو مخکې په بل اروپایي اتحادیه هېواد کې د پناه غوښتنه کړې ده او هغه هېواد مو پرېښې دی
- تاسو مخکې هم بله غوښتنه (دوهمه، دریمه غوښتنه) وړاندې کړې ده

تاسو کېدای شي هغه ملاتړ له لاسه ورکړئ چې ترلاسه کوئ پې، که تاسو تاوتریخوالی کوئ، نورو ته ګواښ کوئ، یا د هغه ځای قوانین چې تاسو پکې اوسېږئ په تکراري یا جدي ډول مات کړئ. په دې حالت کې، کېدای شي پولیس هم د مداخلې لپاره راوبلل شي.

که چېرې تاسو د چارواکو له اجازې پرته بل +EU هېواد ته سفر وکړئ نو څه به کېږي؟

په بلجیم کې:

- ستا د پناه غوښتنې کړنلاره کېدی شي ودرول شي.

په هغه اروپايي اتحاديه هېواد کې چې تاسو پې اجازې ورته سفر کړی دی:

- چارواکي کېدای شي پرېکړه وکړي چې تاسو هغه هېواد ته بېرته واستوي چې تاسو پې پې اجازې پرېښې و.

له هغې شېبې څخه چې چارواکي تاسو د بېرته لېږلو د پرېکړې په اړه خبر کړي، تاسو به ځینو حقونو ته لاسرسی ونه لرئ، د بېلګې په توګه:

- تاسو به **ډېرو خدماتو او د ملاتړ ډولونو ته لاسرسی ونه لرئ**
- تاسو ته **به د کار کولو اجازه درنه کړل شي**
- تاسو ته **به د ژې کورسونو او یا د نوو مهارتونو د زده کړې کورسونو کې د ګډون اجازه درنه کړل شي**

څه پېښېږي یوځل چې تاسو د +EU هېواد غړي هېواد ته بېرته ولېږل شئ چې تاسو له اجازې پرته پرېښودی وو؟

چارواکي کېدای شي پرېکړه وکړي چې تاسو باید په یو ځانګړي ځای کې پاتې شئ او ستاسو شتون به په منظم ډول وکتل شي. تاسو ته به د ځینو محدودیتونو سره له مرکز څخه د بهر تللو لپاره اجازه درکړل شي.

تاسو د واکمنې ادارې د پرېکړې په وړاندې د استیناف درخواست کولی شئ

که چارواکي پرېکړه وکړي چې ستاسو حقونه د غوښتونکي په توګه محدود کړي او تاسو دا ناعادلانه وبولئ، نو **تاسو کولی شئ د دې پرېکړې پر ضد استیناف وکړئ**.

تاسو کولی شئ استیناف وکړئ که چېرې چارواکي پرېکړه وکړي:

- تاسو د استوګنې او نورو د هرکلي ملاتړونو حق نه لرئ.
- د هغه هرکلي ملاتړ کمول یا لغوه کول چې تاسو ته برابر شوی دی.
- ستاسو غوښتنه د دې لپاره ردول چې له یوه ټاکلي ځای څخه په موقتي ډول ووځئ.
- تاسو مکلف یاست چې په یو ټاکلي ځای کې (د ښلګې په توګه په یو ټاکلي د هرکلي مرکز کې) پاتې شئ، او تاسو کولی شئ د ځینو محدودیتونو سره بهر ووځئ.
- ستاسو توقیف کول.

که چېرې تاسو د چارواکو له اجازې پرته بل +EU هېواد ته سفر کړی وي او هلته تاسو د استوګنځای ځینې حقونه له لاسه ورکړي وي، تاسو په هغه هېواد کې د دې پرېکړې په وړاندې د استیناف غوښتنه کولی شئ.

که د بلجیم چارواکي د 21 پاڼې کې د تشریح شویو حالاتو له امله ستاسو لپاره برابر شوی د هرکلي ملاتړ کم یا لغوه کړي، تاسو به بیا هم ځینې حقونه ولرئ. د ببلګې په توګه، تاسو به وکولای شئ ډاکټر یا نرس وویني، طبي مرسته ترلاسه کړئ، ځینې ملاتړونه واخلئ، او د چارواکو له خوا به تاسو ته د استوګنې ځای (د خوب کولو ځای) درکړل شي.

د ملاتړ ډول به ستاسو د شخصي حالت او اړتیاو پورې اړه لري.

که چې د بل EU+ هېواد چارواکي چې تاسو ورته له اجازې پرته سفر کړی پرېکړه وکړي چې تاسو ته چمتو شوی د استقبال ملاتړ لغوه کړي، د هغه ملاتړ ډول چې تاسو به یې لاهم ترلاسه کوئ به ستاسو په شخصي حالت او اړتیاو پورې اړه لري.

تاسو کېدی شي قانوني مرسته ترلاسه کړئ

که تاسو وغواړئ د چارواکو د هغه پرېکړې پر ضد چې ستاسو د هرکلي حقونه محدودوي د قاضي په وړاندې استیناف وکړئ، نو د ستاسو د وضعیت له مخې ممکن تاسو وړیا حقوقي مرسته او استازولي ترلاسه کړئ.

دا په دې معنا ده چې یو حقوقي سلاکار یا وکیل به تاسو سره مرسته وکړي. وکیلان تاسو ته د قاضي په وړاندې حقوقي مرسته برابروي، ستاسو ګټې دفاع کوي، او له چارواکو او قاضي څخه خپلواک دي.

تاسو په خپل لګښت د قانوني سلاګر (سلاګرې) یا وکیل (وکیلې) سره هم مشوره کولی شئ.

چارواکي به تاسو ته خبر درکړي چې څنګه د پرېکړې پر ضد استیناف وکړئ.

تاسو تل د نورو معلوماتو لپاره له چارواکو، غیر دولتي سازمانونو یا UNHCR څخه پوښتنه کولی شئ، د شتون وړیا قانوني مرستې او استازیتوب په شمول.

د اړیکو جزئیات

که تاسو د خپل استوګنې پر مهال کومې پوښتنې لرئ یا ملاتړ ته اړتیا ولرئ، تاسو کولی شئ له هغو کارکوونکو سره خبرې وکړئ چې د لاندې ادارو لپاره کار کوي:

فیداسیل

د فیداسیل د معلوماتو مرکز
پته: Brussels1000 ,3Rue Héger-Bordet

کاري ساعتونه:
- دوشنبه: د سهار له 9 بجو څخه تر غرمې 12 بجو پورې
- سه شنبه: د سهار له 9 بجو څخه تر غرمې 12 بجو پورې
- چهار شنبه: تړلی دی
- پنجشنبه: د سهار له 9 بجو څخه تر غرمې 12 بجو پورې
- جمعه: سهار له 9 بجو څخه تر غرمې 12 بجو پورې
- شنبه: تړلی دي
- یکشنبه: تړلی دي

ژباړونکي شتون لري تر څو تاسو سره د ژباړې په برخه کې مرسته وکړي.
ټیلیفون: 0800 32 746 (د ماسپښین له 1 بجو تر 4 بجو پورې)، په فرانسوي، هالنډي او انګلیسي ژبو.

بریښنالیک:
infopoint@fedasil.be
www.fedasilinfo.be (په 14 ژبو کې معلومات)

د فیداسیل رضاکارانه ستنېدنه
په خپله خوښه د ستنېدنې برخه
www.retourvolontaire.be/en-gb/contact-us
د تلیفون شمیره 0800 32 745 (وړیا شمیره)
بریښنالیک: vrijwilligeterugkeer@fedasil.be
www.vrijwilligeterugkeer.be

نور د پناه غوښتنې اداره

د کډوالۍ دفتر (IBZ)
https://dofi.ibz.be

د کډوالو او بېتابعیتو کسانو لپاره د عمومي کمېشنر دفتر (CGVS/CGRA)
https://www.cgvs.be

تاسو کولی شئ د لاندې موضوعاتو په اړه د پوښتنو لپاره هم له دې ادارو سره اړیکه ونیسئ:

طبي او رواني مرسته

طبي او رواني مرسته

www.fedasilinfo.be/en/theme/medical-assistance

ایا تاسو بیړنۍ طبي یا رواني مرستې ته اړتیا لرئ؟

په بروکسل کې د کډوالو طبي مرکز ته لاړ شئ. ډاکټران او نرسان به وکولای شي تاسو سره مرسته وکړي.

کاري ساعتونه:

- دوشنبه: د سهار له 9 بجو څخه تر غرمې 4 بجو پورې
- سه شنبه: د سهار له 9 بجو څخه تر غرمې 4 بجو پورې
- چهارشنبه: د سهار له 9 بجو څخه تر غرمې 4 بجو پورې
- پنجشنبه: د سهار له 9 بجو څخه تر غرمې 2 بجو پورې
- جمعه: د سهار له 9 بجو څخه تر غرمې 4 بجو پورې
- شنبه: تړلی دي
- یکشنبه: تړلی دي

CROIX-ROUGE de Belgique

پته: Brussels1000 ,125Boulevard de Waterloo

حقوقي مشوره، حقوقي مرسته او حقوقي استازولي

تاسو کولی شئ د خپل ټولنیز کارکوونکي، د ملاتړ اداري یا وکیل له لارې حقوقي مرسته ترلاسه کړئ:

www.fedasilinfo.be/en/need-legal-advice

د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ (UNHCR)

د پناه غوښتونکو او کډوالو د ګټو او حقونو ساتنه کوي.

د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ (UNHCR) بلجیم

https://help.unhcr.org/belgium/en/

+32 472 18 92 65

که تاسو طبي بیړنی حالت ولرئ یا په خطر کې یاست، تاسو کولی شئ دې شمېرو ته وړیا زنګ ووهئ:

طبي بیړنی حالت

پولیس: 101

دا بروشر يوازې د معلوماتو موخو لپاره دی. دا پخپله حقونه یا مکلفیتونه نه رامنځته کوي. د پناه غوښتنې لپاره د اروپايي اتحادیې اداره (EUAA) د دې موادو اصلي محتوا برابره کړې ده، او د دې بروشور بیا خپرول او بدلون یوازې د اروپايي اتحادیې د غړو هېوادونو لپاره د EUAA له خوا اجازه لري. EUAA د دې بروشور کې د اروپايي اتحادیې د غړو هېوادونو یا د نورو مسؤلو درپیمو ارخونو له خوا د شاملې شوې معلوماتو د دقت، محتوا، بشپړتیا، قانونیت یا اعتبار لپاره هېڅ دول مسؤلیت یا ځواب ویونکي نه منې. نه EUAA او نه هم هغه څوک چې د EUAA په استازیتوب عمل کوي، د هغو استعمالونو لپاره مسؤل دي چې کېدای شي په دې بروشور کې د موجودو معلوماتو څخه وشي.

© د پناه غوښتنې لپاره د اروپايي اتحادیې اداره، 2025